DAILY
اراده
د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپانه
سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش
سال پنجم شماره ۱۳۹
شماره مسلسل ۷۶۵
چهارشنبه ۱۸ جوزا ۱۳۸۴ هـ ش
۲۹ ربیع الثانی ۱۴۲۶ هـ ق
8 June, 2005

PROPERTY OF ACKU

انفجار کندهار حمله انتحاری نبوده است



مولوی فیاض رئیس مقتول شورای علماء این ولایت برگزار گردیده بود در اثر این انفجار بشمول خاکریزوال برادر خاکریزوال ادعا مینماید که قتل برادرش با حمله انتحاری صورت نگرفته بلکه ازاثرانفجار یک بمب جاگزاری شده بود که توسط ریموت کنترول هدایت می گردیدرخداده است.یازدهم جوزا زمانی در مسجد عبدالرب اخندزاده ولایت کندهار انفجاری بوقوع پیوست که مراسم فاتحه قوماندان امنیه کابل ۲۰ تن کشته و ۶۰ تن دیگر مجروح گردیدند.

معلم محمد اکبر برادر بزرگ خاکریزوال شام ۱۶ جوزا طی یک کنفرانس خبری گفت که انفجار در مسجد جامع عبدالرب آخندزاده یک عمل قصدی بود. ص۴

دتخار ولایت خلک

د خایي قوماندانانو له باج اخیستني څخه سرټکوي

د تخار ولایت یو شمیر خلک دعوه کوي چې ځینې قوماندانان د عُشر او زکات تر نامه لاندې له دوي باج اخلي په داسې حال کې چې قوماندانان دا دعوه ناسمه بولي.خلکو د پیرم قل او د چاه آبي آمر بشیر نومونه اخیستي او وایي چې دا قوماندانان د جهاد له مهاله تر دې دمه پر دوي باج اخیستنه تپلي ده. ۴مخ

خوست:

یونا پیژانده مړی ومو ندل شو

دخوست ولایت امنیتي مسوولین وایي چې داسماعیل خبلوپه ولسوالۍ کې داسې مړي پیدا کړي چې دواړه پښې یې پرې شوې وي ۴مخ

دیو کاندید پلار ووژل شو

د پکتیا ولایت په زرمت ولسوالۍ کې یوقومي مشر او راتلونکو ټاکنو ته دیو کاندید پلار دنامعلومو وسله والوکسانو له خوا وژل شوی دی. دوژل شوي معلم شېراحمد زوی او ولسي جرګې ته کاندید میرویس دانش له پژواک خبري آژانس سره په یو ټیلیفوني تماس کې وویل چې دوی له هیچاسره شخصي بدي نه لري اونه دده پلاردولت په ملاتړداسې ډېرې زیاتې هڅې کړې وې چې ددولت دمخالفینو له لوري وژل شوي وي. ۴مخ

انفجوني په اپینو پلورل کیږي



دهلمند ولایت دمرجې ولسوالي یوي اوسیدونکې بی بی عایشې په داسې حال کې چې په لوی څادر کې یې خان تاو کړې و په پټ مخ یې پژواک خبري آژانس ته ویلي: داپینو یو سوداګر خاوند ته مې داپینو له پاره پیسې ورکړې وې خو چې اپین یې ورته برابرنه شو کړای نو زما لوریې سوداګر ته داپینو په بدل کې ورکړه.)) نوموړې وایي چې دا نښه کار نه دي ماشومه لوریې قاچاقبر ته ورکړه دملګرو ملتونو دیو راپورله مخې چې تیر کال خپور شوي و دټولې نړۍ ۸۷ فیصده کوکنار په افغانستان کې تولیدیږي. او هلمند په ټول افغانستان کې دکوکنارو تر ټولو زیات تولیدونکی ولایت دی. ۴مخ

سرمقاله

اظهار رای به کاندید مناسب، آبادی بنای دموکراسی است

باعلام نامهای کاندیدان انتخاباتی برای شورای ملی فرصت تصمیم گیری وآزمون دیگری برای مردم ما به میان می آید.

پارلمان یاشورای ملی یکی از ارگان های سه گانه ومهم دولت به شمار میرود که با تشکل آن سهم گیری ملت بصورت مستقیم درکار دولتداری به حقیقت می پیوندد.

دروضعیت کنونی اشخاص گوناگونی ازاقشار ،اقوام و گروهها، اعم از گروههای سیاسی، تنظیمی واحزاب خود را کاندید کرده اند.

ظاهراً تمام کاندیدان افکار ، نظرها ، خط مشی و ایدآلهایی دارند، وبرای جامهء عمل پوشیدن آن مساعی به خرج میدهند ومیخواهند به عنوان نماینده آرای مردم رابدست آورند.

مسلماً برخی ازین کاندیدان درمرکز وبخصوص درولایات وروستاها با اعمال نفوذ، توزیع پول وغیره مردم را تطمیع ، تهدید، تخویف وترغیب خواهند کرد تا برای آنان رای داده شود.

اما مردم باید بدانند که چه کسانی را بدست خود وبا رأی خود بر می گزینند و به خانه ملت می فرستند.

آنانی را که با قساوت مردم را مورد ظلم، تعرض ، تجاوز وکشتار قرار داده اند ؟

شهر وکشور را ویران کرده اند، سرنوشت ملت ووطن را بدست بیگانگان سپرده اند وخود برگلوی مردم پاگذاشته اند وتاتوانسته اند چاکر منشانه طبل بیداد واستبداد را درین کشور به صدا درآورده اند؟ ص۴

مکتبی در نادرشاه کوت به آتش کشیده شد

مسئوولین ولایت خوست از به آتش کشیده شدن یک مکتب متوسطه در ولسوالی نادرشاه کوت این ولایت خبر دادند.

نقیب الله عصمتی معاون امنیت ملی خوست گفته است که شب ۱۴ جوزا اشخاص نامعلوم با استفاده از تاریکی در منطقه زینی خیل ولسوالی مذکور خیمه ها و میزهای مکتب متوسطه سرمیخکی را به آتش کشیده اند.

محمد عارف غروال رئیس معارف خوست به آژانس خبری پژواک گفت که در رابطه مکتب متذکره با مسئوولین یونیسف دیدار نموده است تا کمک انها راجلب نماید. ص۴

با یونیفورم پولیس ملی یک منزل را غارت کردند



خانواده ای در شهر کابل ادعا نموده است که روزگذشته چهارنفر مسلح که دوتن آنها لباس پولیس ملی به تن داشتند به بهانه تلاشی خانه به خاطر دریافت خانم اختطاف شده ایتالوی پول نقد وزیورات شان را به غارت برده اند .

آژانس خبری پژواک گفته دگروال عیدی محمد به است که ص۴

خود سوزی در هرات به مردان هم سرایت کرد

اوانیکه مرد ۲۵ ساله ازاثر خودسوزی (روز ۱۶ جوزا) درشفاخانه حوزوی هرات جان باخت جوان ۱۸ ساله ای خودش راآتش زد اما از مرگ نجات یافته است.خانواده های این قربانیان علت این خودسوزی ها را مشکلات اقتصادی وجنجالهای خانواده گی خوانده اند.به گفته داکترغلام جیلانی مسؤول بخش سوختگی شفاخانه حوزوی ولایت هرات ۹۸ در صد وجود محمد شاه باشنده پُل رنگینه ناحیه ششم هرات سوخته بود که بعد ازانتقال درشفاخانه جان داد.شاه غلام پدرمحمدشاه به آژانس خبری پژواک گفته است: ((وضعیت اقتصادی پسرم خوب نبود ولی ما نمیدانستیم که اودست به خودسوزی میزند.)) ص۴

آتش امیدواری برای رهایی کلیمینتینا

آتش امیدواری برای رهایی خانم ایتالوی کلیمینتیناکانتونی از طرف سفارت ایتالیا مقیم کابل در تپه نادر خان طی یک گرد همایی شب ۱۶ جوزا روشن ساخته شد.

این کارمند ۳۲ ساله موسسه پاملرنه که از مدت سه سال بدینسو در پروګرام کمک با زنان بیوه افغان کار مینمود از طرف افرادمسلح ناشناس، شب ۲۶ ثور از قلعه فتح الله کابل اختطاف گردیده است.

سفیر ایتالیا مقیم کابل که در این محفل اشتراک نموده بود گفت : ((آتش امید واری برای رهایی خانم کلمینتینا افروخته شد و ما امید وار هستیم که به زودی این خانم رها شود.))

یک خانم افغان همکار کلیمینتینا که نخواست ازوی نام برده شود گفت : ((من از یکنیم سال بدین سو همکار کلمینتینا هستم اویک خانم مهربان است که برای ده هزار خانم بیوه کمک می میکرد.))

وی از اختطاف کننده گان خواست که کلیمینتینا را به زودی رها نماید تا برای اطفال یتیم و خانم های بیوه کمک نماید.

سه پاکستانی به اتهام اختطاف اطفال در فراه دستگیر شده اند

وزارت امور داخله میگوید که مقامات امنیتی ولایت فراه سه پاکستانی و یک افغان را به اتهام اختطاف یک طفل دستگیر نموده اند.

به گفته منابع وزارت مذکور این افراد بتاریخ ۱۵ جوزا طفلی بنام نثاراحمدرا اختطاف نموده بودند که از طرف پولیس در منطقه عسکر آباد واقع در نزدیکی مرکز ولایت فراه دستگیر گردیدند.

دفتر مطبوعاتی وزارت امور داخله به آژانس خبری پژواک گفته است که افراد دستگیر شده تحت تحقیق قرار دارند.

سلسله اختطاف اطفال در مناطق مختلف کشور ادامه یافته است چنانچه در ولایات هرات و کندهار تظاهرات علیه این عمل صورت گرفته و بخصوص در ولایت کندهار این تظاهرات منجر به خشونت نیز گردیده است.

په تیر پسې

یو کیسه به درته وکړم

ت، حضرتي

د بیلګې توګه په ننګرهار کې هیڅوک له مظاهرې څخه خبر نه و خو یوه ورځ مخکې لوی بار داره موټرونه له تورخم څخه د جلال آباد ښار ته پرې نه ښودل شول ورته ویل شوي وه چې سبا سهار په جلال آباد ښار کې یوه پینبه کیږي همدا وه چې د مظاهرې په ورځې یعنې په ۱۳۸۴/۱/۲۱ نیټه د سهار اته بجې مظاهره د طب پوهنځي له دروازې څخه د طب په پوهنځي پورې مربوط محصلین او نور د تعلیم او تربیې د ریاست لوړ پوړي چارواکي د ننګرهار د لیسې مخې ته را ورسیده چې د ننګرهار له لیسې څخه څو زره کسیزه لیسه ورسره یوځای شوه او د تالاشۍ د چوک په څلور لارې کې نور مخرب وطن فروشان او لاس پوڅي ورسره یو ځای شول د ټیلو ګیلنې، د ګارزونو ډبې او نور وسایل د وران کارۍ وسایل لکه تیږې، لرګې ورسره وو په موبایلونو یې یو بل ته قوماندې ورکولې د جلال آباد ښکلی تاریخي ښار یې بیا په ورانۍ بدل کړ.

د پاکستان قونسلګري یې پدې خاطر وسوزوله چې داسې څوک ګومان ونکړي چې دا پاکستانیانو سوزولي ده دا مظاهري سوزولي.

زمور ارزو د مرکزي دولت او په خاصه توګه له ښاغلی کرزی څخه داده چې نور د ننګرهار لور رتبه چارواکو ته ددې فرصت ورنکړي چې بیا د جلال آباد په ښار کې واکداري وکړي د لرګو قاچاق، د کوکائین قاچاق، وسلو قاچاق د انسانانو قاچاق ددې منطقې قوماندانانو او لور رتبه خلکو کړی او اوس یې هم کوي نور یې زمور د ملت د ارادو په اساس مطمیئن انسانان ونه پیژني جداً ورڅخه خواهش کوو چې داسې انسانان راولیږه چې د خلکو درد ته دوا شي دوی د خلکو په زخمونو مرچ پاشي او بیا یې اور ته کښینوي.

مونږ درڅخه مسلکي کادرونه چې تحصیل یافته وي له ستاسو څخه غواړو د ننګرهار خود سره کابینې ته خاتمه ورکړي دا یوې کورنۍ پورې مربوط حکومت دا په شناخت او تنظیمونو تقسیم شوی نظام په ننګرهار کې ختم غواړو ملت ډیر غنی دی ډاکتران، ماسټران او عالمان او ادیبان لرو، پوهاندان لرو دلته معارف ډیر کار کړی دوی د غلا کولو تاریخ، بې تفاوتی د ملت په مقابل کې د وطن په مقابل کې پرې نښوده دوی چې پر چوکۍ ناست دي دا خپل قانوني او شرعي حق ګڼي داسې نده خپله خو هیڅ فکر نلري بلکه د هغو خلکو نیکي ارادې چې د وطن د بیا رغونې لپاره هڅیدلي دي ناکامي او له وطن څخه یې زړه توره وي.

اما یو پیشنهاد دی او هغه دادی چې په معلوماتو کې د ولایت د مقام څخه نیولی او د نورو ادارو د رئیسانو پورې دری دری میاشتې بعد د وظیفې څخه تبدل شي تر څو دوی پوره پیژندګلوی پیدا نکړي چې څوک څه کار کوي او هغه کمیشن کاران چې ددغه نا مشروع لارې څخه پیسې او ګټې پیدا کوي ددې پوره شناخت د اداري له رئیس سره پیسود پید اکیدو په منظوري او هغه څخه پر استفادې وخت پیدا نکړي بله دا چې یو والي پر څوکۍ کښیناست یا قوماندان بیا هغو د چوکۍ دعوه ګیر شي دوی یو شمیر کسان روزي او تربیه کوي یې چې د تبدیلي په وخت لورو مقاماتو ته د عذر او دوالي د کار د ښه والي په باره کې شفاعت وغواړي.

نویسنده: پوهنمل سید عبد القیوم تابش

افغانستان نیاز به درمان دارد

افغانستان سر زمینی است دارای اقلیم خشک و لا مرطوب که شهکار طبیعت تصویر آنرا کم تر زیب و زینت بخشیده است اکثر ساکنان آن مانند اقلیمش خشک مغز و خشک برخورد بوده، زشتی، تنگ نظری، بی تفاوتی و از خود بیگانگی از جملهء صفات ذاتی مردم این مرز و بوم میباشد.

اگر چه انسانها طبیعتاً دارای ظرفیت ها و امکانات معنوی متفاوت میباشند، ولی در این کشور همگی خود را دارای ظرفیت عالی و شایسته همه چیز میدانند و این یگانه عامل عقب مانی اقتصادی و فقر فرهنگی ما را صفات فوق الذکر تشکیل میدهد در این کشور هر کس علاقه مند است زعیم شود و هرکس میخواهد مقامات دولتی را غصب نماید تا ز این طریق مصدر خدمت برای خود فامیل و دوستانش گردد. در حالیکه به هیچ صورت اهلیت، شخصیت، توانایی و استعداد کار در مقامات دولتی را نداشته و ندارند، جز اینکه اداره را به طرف نابودی بکشانند، فساد اداری را مشروعت بخشند و مانند گرگان به جان و مال ملت حمله ور شوند.

من نمیدانم همچو افراد چرا آنقدر علاقه مند زعامت هستند. آیا مسوولیت و وظایف یک زعیم را دقیق درک کرده اند؟ آیا با نیروی جسمی و معنوی شان مصلحت نموده اند که این مسوولیت بزرگ را با صداقت و امانت داری انجام دهند؟ من یقین کامل دارم که همچو اشخاص فقط به سرنوشت ملت بازی نموده و صرف به فکر شهرت و زراندوزی میباشند و بس. و اینکه در نتیجه اعمال و افعال شان چی بلایی بر سر این ملت می آید نزد شان ارزش و اهمیتی نخواهد داشت.

هر گاه بتاریخ کشور نظر اندازی گردد، دیده می شود محدود شخصیت های وجود دارند که در دوران زعامت شان چشم امید ملت را بخود جلب کرده، خاطراتی از خود به یادگار مانده اند. ولی اکثریت زعما ضعف ها ونا توانی های کلی داشته اند، چنانچه افغانستان عقب مانده ویران و ملت خون آلود محصول فعالیت های نا درست آنها میباشد.

با پیروزی اداره موقت و دولت انتقالی ملت سخت امیدوار بود که دیگر صلح و ثبات در کشور تحکیم، کشتار، ویرانی، ظلم و بی عدالتی جای پایی نخواهد داشت ولی با تأسف که چنین نشد..

در قسمت تامین امنیت باید متذکر شد که تاکنون دشمنان مردم در اکثر نقاط کشور مصروف تحرکات نظامی بوده، زند گی صلح آمیز مردم را به خطر مواجه ساخته اند. در حالیکه در سراسر افغانستان اضافه تر از نود فیصد ملت فریاد می کشند که ما صلح میخواهیم و دست جنگ افروزان از گریبان ما کوتاه گردد ولی دولت توانایی آنرا ندارد تا در پهلوی ملت قرار گرفته، قانون را بالای چند فیصد افراد مسلح غیر مسوول تعمیل و آنها را از صف محاربه خارج سازد.

ادامه دارد...

دافغانستان اسلامی جمهوریت
دانتخاباتو دشکایتونو کمیسیون

جمهوری اسلامی افغانستان
کمیسیون شکایات انتخاباتی

ECC

Islamic Republic of Afghanistan
Electoral Complaints Commission

تاسو د ولسي جرګې او ولایتي شوراګانو د کاندیدانو په وړتیا اعتراض کولای شئ

د کاندیدانو د نومونې موده د غبرګولي په ۲مه پای ته ورسیده.

په ټول هیواد کې له ۶۰۰۰ څخه زیاتو افغانانو پریکړه وکړه چې د ولسي جرګې او ولایتي شورا د انتخاباتو لپاره، چې د وړې په ۲۷مه به تر سره شي، خانونه د کاندیدانو په حیث ثبت کړي.

لومړنی لست چې د ټولو هغو کسانو نومونه به وړي چې د کاندیدېدو لپاره یې غوښتلیکونه سپارلي، نه راتلونکي شنبې د غبرګولي ۱۴مې څخه تر پنجشنبې د غبرګولي ۱۹مې نېټې پورې به د انتخاباتو د تنظیم د ګډ دفتر د دارالانشاء په ولایتي دفترونو او هم د ولایتي مرکزونو په نورو عامه خایونو کې وخوړل شي.

ټول افغانان کولای شي چې د انتخاباتو د تنظیم د ګډ دفتر د دارالانشاء په ولایتي دفترونو کې دغه لست وګوري.

که چیرې ستاسو په اند یو خانګړی کاندید چې د کاندیدانو په لومړني لست کې موجود وي، باید په لست کې ونه اوسي خکه چې نوموړی هغه معیارونه نه پوره کوي چې د ټاکنو په قانون کې وضع شوي، د بیلګې په توګه که افغان نه وي، یا په کوم جرم محکوم شوی وي نو کولای شئ پر خلاف یې اعتراض وکړئ.

د شنبې (غبرګولي ۱۴مې) څخه تر پنجشنبې (غبرګولي ۱۹مې) پورې به تاسو د دې امکان ولرئ چې د اعتراض یوه فورمه دکه او وسپارئ کومه به چې د انتخاباتي شکایتونو کمیسیون ته ولیږدول شي. دا خپلواک ارګان به په خپل وار سره نول اعتراضونو تر غور لاندې ونیسي او د کاندیدانو د وروستۍ لست په هکله به د چنګاښ تر ۱۰مې نېټې پریکړه وکړي.

د اعتراضونو دغه دوره هغو کسانو ته چې د ټاکنو د بهیر سره علاقه لري، موقع په لاس ورکوي چې د ولسي جرګې او ولایتي شوراګانو د ټاکنو د کاندیدانو پر خلاف اعتراض وکړي.

د اړیکو ټینګولو په اړه معلومات

د انتخاباتي شکایتونو کمیسیون اساسي دفترونه په کابل، د جلال اباد لویه لار، د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو د اداري د ټاکنو په دفتر کې دي. د انتخاباتي شکایتونو د کمیسیون سره د برېښنالیک (ECC@anqus.org.af) ټلیفون (۸۹۲ ۲۲۲ ۰۷۰ یا ۸۸۱ ۳۱۸ ۰۷۹) او یا د فکس (۱۷۵ ۱۰۶ ۰۷۰) له لارې اړیکې ټینګېدلای شي.

د کاندیدانو اوصاف او د کاندیدېدو شرایط

د یو کس د کاندیدۍ د ارزونې په مهال باید لاندې لارښوونې په پام کې ونیول شي.

د دې لپاره چې یو کس خان کاندید کړي د افغانستان د اساسي قانون او د ټاکنو د قانون سره سم باید لاندې اوصاف ولري:

۱. د افغانستان تبعه وي یا اړ تر لږه د کاندیدۍ لپاره د غوښتنلیک د سپارنو تر نېټې لس کاله پخوا یې د افغانستان د دولت تابعیت تر لاسه کړی وي؛
۲. د محکمې له خوا د بشري ضد جرمونو او جنایت په ارتکاب او یا له مدني حقوقو څخه په محرومۍ محکوم شوی نه وي؛
۳. ولسي جرګې د نه د کاندیدېدو لپاره د غوښتنلیک د سپارنو په مهال لږ تر لږه ۲۵ کاله او د ولایتي شورا لپاره لږ تر لږه ۱۸ کاله عمر ولري؛
۴. د انتخاباتو د تنظیم د ګډ دفتر له خوا د تصویب شوو کرنلارو سره سم د رایه ورکوونکي په توګه ثبت شوی وي.

همدارنګه یو لړ حکومتي او انتخاباتي کارکوونکي د خپلو دندو څخه د استعفا کولو پرته خانونه نه شي کاندیدولای .

بالاخره، هغه کسان چې د غیر رسمي وسلې والو خواکونو یا وسلې والو ډلو قوماندې عملاً په لاس کې ولري یا د هغو غړي وي، نشي کولای په ټاکنو کې خان کاندید کړي.

د ټاکنو د قانون سره سم د یو کاندید د ورځپا پر خلاف اعتراضونه یوازې له پورتنیو اوصافو پورې محدود دي.

ورزش ضامن تندرستی

متصدی صفحه : بشیر نذیر

برنده مدال طلائی مسابقات انتخاباتی کاراته

ناهید (پیروز) کاراته کار ولایت هرات برنده مدال طلایی مسابقات انتخاباتی کاراته برای تیم ملی شد

مسابقات انتخاباتی کاراته ای بخش اناث به اشتراک (۶۰) نفر ورزشکار از هفت کلپ ورزشی کابل و یک نفر ورزشکار از ولایت هرات به تاریخ ۲۴ ثور در کمیته ملی المپیک دایر شده بود. به گفته محمد نادر ودیدیکتن از مسئولین بخش نشرات کمیته ملی المپیک این مسابقات در سبک های اجرای فورم و مبارزه در هشت کلاس وزنی راه اندازی شده بود.

موصوف اظهار داشت که هدف از راه اندازی این مسابقات رشد و توسعه سپورت اناث در کشور و آماده گی آنها برای شرکت در چهارمین دور مسابقات زنان کشورهای اسلامی می باشد. وقرار است مسابقات زنان کشور های اسلامی در ماه سنبله در ایران برگذار گردد.

ودید گفت: ناهید پیروز کاراته کار ولایت هرات برنده مدال طلایی این مسابقات و بهترین کاراته کار کشور شناخته شد.

مسابقات تکواندو نوجوانان آغاز گردید

هشتمین دوره مسابقات قهرمانی تکواندوی نوجوانان روز جمعه ۱۳ جوزا با شرکت (۶۰۰) تن ورزشکار زیر سن ۱۷ سال در صحن استدیوم ورزشی کابل راه اندازی گردید، در این مسابقات ورزشکاران ذکور و اناث کلپ های آزاد و موسسات رسمی مرکز و ولایات شرکت ورزیده بود، هدف از راه اندازی این مسابقات گزینش تیم منتخبه نوجوانان برای فدراسیون تکواندو کشور می باشد.

په لږ وخت کې ډیر څه ترسره کیدای شي

دا روپا د فوټبال چمپینیز لیك د جام د فاینل لوبه چې د چهار شنبی په ماښام د مخکینی پریکړی له مخې دترکیې د استانبول ښار په استدیوم کې وشوه ددغه جام په تاریخ کې تر ټولو زیات ګولونه پکې ووهل شول د انګلستان د لیور پول تیم د پنځم ځل لپاره په خپل ژوند کې د اروپا د کلپونو د جام وړونکی شو لیور پول د ۱۹۸۴ راهیسې د اروپا د فوټبال لوړ مقام نه و تر لاسه کړي اوپه دې بریالیتوب سره لیور پول وکړای شول چې خپل پخوانی شان او شوکت بیرته راژوندی کړي د لوبو په جریان کې د ای، سي میلان تیم کپتان مالدیوي کلونه، کلونه چې د ایتالیا د ملي ټیم کپتان هم و د لوبی په لومړی دقیقه کې د میلان د تیم په ګټه ګول ووهه دا د ۱۹۵۹ کال راهیسې له ټولو چټك ګول و چې د فوټبال په چمپینیز لیك په پای لوبه کې وهل کیږي د لوبی په لومړی نیمایي کې ای، سي میلان تیم دوه نور ګولونه ووهل او لومړی نیمایي دری د صفر په مقابل کې د میلان په ګټه پای ته ورسیده خو دوهمه نیمایي کې هم د میلان تیم خپلو حملو ته دوام ورکړ خو کله چې د لیور پول ټیم په شپږ څلویښتمه دقیقه کې آلماني فوټبالر ګوت مارها من د لوبی میدان ته داخل کړي په ناڅاپي توګه لوبی تغیر وموند اوپه شپږو دقیقو کې په پر له پسې توګه دلوبی په څلور پنځوسمه، شپږ پنځوسمه او شپیتمه دقیقه کې لیور پول دری ګولونه ووهل لوبه تر پایه دری دری مساوي پاتی شوه او له مقرراتو سره سم مسابقه د دو څلی پنځلس دقیقو لپاره اوږده کړای شوه خو په اضافي وخت کې بیا هم دواړه ټیمونه مساوي شول په پای کې دواړو ټیمونو ته د پنځه، پنځه پینالتی وهلو چانس ورکړای شو چې په دې توګه د لیور پول د ټیم ګولکیپر چې د پولنډ د ملي ټیم ګولکیپر هم دی دوه ځلی دای، سي میلان د نامتو لوبغاړو پینالتي شوټونه راوګرځول او د لیور پول ټیم د لوبی وړونکي شو ای، سي میلان د ټیم ترینر د خپل ټیم د باور نکووونکي ماتی په هکله چې دری ګوله مخکې و وویل دا یو عجیبه لوبه وه رښتیا هم عجیبه او غریبه مونږ ښه لوبه وکړه خو شپږ لیونی دقیقی مو درلودی خو هر څه یې بدل کړل زه فکر کوم چې مونږ په زړه پوری فاینل تر سره کړ د لیور پول د ټیم مهاجم چکی لوبغاړي وایي مونږ ناممکن، ممکن کړ او دی لوبی وښودله چې په لږ وخت کې ډیر څه تر سره کیدای شي.

مسابقات تیم های دسته اول فوتبال شهر کابل ، وارد مرحله دوم شد

مسابقات فوتبال تیم های دسته اول شهر کابل که روز ۵ جوزا در استدیوم ورزشی شهر کابل آغاز گردیده بود روز ۱۴ جوزا وارد دومین مرحله خویش گردید .

به گفته نادر ودید سخنگوی کمیته ملی المپیک هدف از راه اندازی این مسابقات بلند بردن سطح تخنیک وتکتیک بازیکنان روابط حسنه بین ورزشکاران وانتخاب تیم منتخبه فوتبال وبهترین بازیکنان شهر کابل میباشد .

وی افزود که این مسابقات به سیستم لیک بوده که ۱۸ کلپ آزاد وموسسات ورزشی شهر کابل در آن اشتراک دارند ودر ۱۷ دور انجام می یابد .

عبدالبصیر قیومی مسؤول تدویراین مسابقات میگوید که در دور اول این مسابقات تیم جوانان آزادی و فوتبال اردو خوب درخشیده اند .



صحنه های جالبی از فوتبال





مسابقات ورزشی بین تیم های بغلان وسمنگان به نفع بغلان خاتمه یافت

در مسابقات فوتبال ووالیبال که میان تیم های ورزشی (معارف) ولایت بغلان و(صداقت) ولایت سمنگان در استدیوم شهر ایبک دایر گردید تیمهای ورزشی بغلان غالب شدند.

تیم فوتبال بغلان در این مسابقات که بیش از پنجصد تماشاچی در آن شرکت کرده بود توانست ۲ مقابل ۱ و تیم والیبال این ولایت توانست ۳ مقابل ۱ جانب مقابل را شکست دهند.

اولین گول در دقیقه ۲۵ میدان اول مسابقه فوتبال توسط محمد عوض مهاجم سمت چپ تیم بغلان با ضربه سر به ثمر رسید وگول دوم نیز توسط بازی کن دیگر همین تیم محمد اکرم مهاجم سمت راست در نیمه میدان دوم با ضربه پا به ثمر رسید.

همچنان در بازی میدان های والیبال تیم بغلان توانست توپ را سه بار در شارت های فیصله کن به میدان حریف بزند در حالی که تیم صداقت این کار رابرای یکبار توانست انجام دهد.

استاد نجیب الله آمر ورزشی ریاست معارف ولایت بغلان گفت : ((ما چلنج جانب مقابل را چند روز قبل دریافت نموده بودیم و این مسابقات در فضای کاملاً دوستانه با برنده شدن تیمهای فوتبال و والیبال ما پایان یافت.))

وی افزود که این دیدار های ورزشی میتواند باعث بلند بردن سطح استعداد های ورزشی میان جوانان گردد به همین ملحوظ بُرد وباخت آن برای آنها مهم نمی باشد.

با این حال معلم سردار محمد- آمر ورزشی ولایت سمنگان اظهار داشت: ((با آنکه ورزشکاران هر دو تیم -خوب بازی نمودند ولی اصول مسابقه است که اگر مساوی نشوند یک جانب باید مغلوب گردد.))

وی از ورزشکاران ولایت بغلان توصیف نموده و از اجرای مسابقات با آنان اظهار خورسندی نمودوخواهان ادامه روابط بیشتر میان ورزشکاران گردید.محمد اکرم یکی از بازی کنان تیم فوتبال بغلان در مورد این مسابقات گفته است:((اگر چه از این بُرد خود خوشحالیم ولی باز هم برای ما این مهم نیست مهم این است که مابا تیم های مختلف دیدار میکنیم واین باعث میشود که به تجربه ما افزوده شود))

تیم تکواندوی نوجوانان کشور انتخاب میشود

مسابقات ورزشی برای انتخاب تیم منتخبه تکواندوی نوجوانان که روز ۱۳ جوزا با شرکت ۵۰۰ ورزشکار از مرکز و بعضی ولایات کشور درستدیوم ورزشی کابل آغاز گردیده بود ادامه دارد .

بگفته غلام ربانی رییس فدراسیون تکواندوی کمیته ملی المپیک دراین مسابقات ورزشکاران مرکز و ولایات کندهار ننگرهار بلخ پروان وکاپیسا به مصرف خود شرکت نموده اند .

ربانی راجع به اشتراک ورزشکاران سایر ولایات گفت : ((ما بنابر امکانات کم نتوانیستم که ورزشکاران تمامی ولایات را شامل این مسابقه نماییم .))

وی اضافه نمود که این ورزشکاران دارای سنین ۱۳ الی ۱۷ سال میباشندو از جمله اشتراک کننده گان به تعداد چهل دختر و چهل پسر در ده کلاس وزنی برای تیم منتخبه که حیثیت تیم ملی را دارد انتخاب می گردند.

نامبرده خاطر نشان ساخت که چون امتحانات سه ماهه مکاتب آغاز گردیده امکان دارد که مسابقات به تعویق بیافتد .

منبع افزود که تیم نوجوانان تکواندوی کشور دو ماه بعد برای اشتراک در مسابقات آسیایی تکواندوی نوجوانان که در کشور قزاقستان برگذار میگردد دعوت گردیده است .

تیم تکواندوی نوجوانان کشور سال قبل در فیستیوال جهانی تکواندو ی نوجوانان و خوردسالان در کوریایی جنوبی با کسب ۱ مدال طلا ۷ مدال نقره و۶ مدال برونز حایز مقام دوم در بین ۶۰ کشور جهان گردیده بود .

اظهار رای به کاندید مناسب!...

ویا به کسانی رأی میدهند که ازنام نیک بهره دارند ویه گروههای جنایت پیشه مربوط نیستند؟

مـردم بـاید توجـه داشته باشند که به سخنان فریبندهء آنانیکه با مصالح علیای ملت ومملکت بازی کرده اند، وافغانستان را قربانی سیاستهای تسلط طلبانهء خارجیان ساخته اند وخود تا همین اکـنون معاشـخوار استـخبارات کشـورهای بیگانه هستند، فریب نخورند.

کـاندیدانی ازینگونه میتوانند که از هرگونه وسیله برای کشاندن مردم به دنبال خویش استفاده کنند وآنانرا تحت فشار قرار دهند تا رأی شان را بدست بیاورند.

اما ازآنجای که رأی دادن به صورت مخفی صورت میگیرد، مردم میتوانند به کاندید شایسته رأی بدهند.

بـاید بـه خاطر داشت که اگر مردم به بهترین اشخاص ونماینده گـان واقعـی مردم رأی داده نتوانند، شورای ملی نمیتواند، خانهء صلح، امن وعدالت وآزادی باشد.

ازینرو با اظهار رأی به نمایندگان واقعی مردم ونه آنانیکه بصورت فرمایشی وازحلقات خاص به صورت دستوری میخواهند به خانهء ملت راه یابند، سرنوشت آیندهء این کشور را معین خواهند کرد. بیایید این آزمون را پیروزمندانه پشت سربگذاریم ویا ایفای حق شـهروندی کاربـزرگی را بـرای تـأمین عدالت وقانونیت وتحقق دموکراسی بـه فـرجام آوریم وبنای دموکراسی را درکشور برپا کنیم.

خوست کې یو ...

دخوست دامنیې قوماندان مل پاسوال محمد ایوب پژواک خبرې آژانس تـه وویـل چې ددې ولسوالی اړونـد ځړېـنو سیمه کې یې دا مړي موندلي دي.

ده زیاتـه کـړه چې کېدلـي شـي نومـوړي په خپل ماین الوتي وي ځکه چې سینه یې سخته ټپي وه او دواړه پښې یې پرې شوې وې.

دخوست دملي امنیت مرستیال نقیب الله عصمتي دپښې دتائید پـر مهـال ووېـل چې، دنومـوړي هویت نه دي معلوم اوداځرګنده نه ده چې، چا وژلـي او کـه خپل بم پرې الوتي دي؟

دامنیې قوماندان داهم وویل چې دوي دخوست په راډیو کې دمړي نښې اعلان کړې خو وارثین یې پیدا نـه شول او ښاروالی تـه یې دخښولو لپاره سپارلي دي.

دا پـه داسـې حـال کې ده چې دخوسـت دچـارواکو پـر وېـنا دغبرګولي په ۳ مـه یو تـن دخپل هغـه بم په وسیله وژل شوي و چې غوښـتل یې دبـاک ولسـوالی دسنارګي په سیمه کې یې په لویه لاره کې ښخ کړي.

انفجارکندهار حمله ...

وی افـزود: ((امنیت این مسجد قبل از این واقعـه بـدوش مـلاء هـای این مسجد بود کـه بعـداً افـراد شـاروالی آنـرا بـدوش گرفتند که مسؤولیت نظم مسجد رانیز به عهده داشتند))

معـلم اکبر بعـد از کـنفرانس خـبری طی یـک مصاحبه اختصاصی به آژانس خبری پـژواک گفتـه است: ((پنج دقیقه بعد از انفجـار، مـن از همـه پیشـتر به محل واقعه رفـتم، قبل از انفجار یک دروازه مسجد را عسـاکری کـه بـا خاکریـزوال امـده بودندمسدود نموده و تلاشی مینمودند اما بعـداً از طـرف موظفیـن مسـجد دروازه دیگـری بـروی مـردم بـاز گـردید کـه موظفینی برای تلاشی نداشت.

به گفته وی، ۱۸ تـن در ایـن واقعه زنده مـانده انـد وهمـه آنهـا بـه چشـم خـود مشـاهده نمـوده انـد که ماین درزیر قالین مسجدانفجار نمـوده و انسان ها رابه هوا پـرتاب نمـوده بـود و این هیچ دلیلی شده نمیتواند کـه انفجـار ناشی از یـک حمله انتحاری بوده باشد.

شـاهدان عینـی میگویـند که فرش و تمام اشیای محـل انفجـار بشکلی پارچه پارچه شـده است کـه هـر پارچه آن مترها دور پرتاب گردیده است.

پاسوال گـل محمـد انـدړ رئیس پیژنتون وزارت امـور داخله که در تحقیقات جنایی تجـربه دارد در ایـن مـورد بـه آژانـس خـبری پـژواک گفته است: ((اگردر اثر انفجـار در فـرش و یا قالین مسجد سوراخ هـابه وجـود آمـده باشـد و چـره هـا آن بطـرف بالا پرتاب شده باشد امکان بمب و یـا مـاین وجود دارد در غیرآن نیست.)) ایـن در حالیسـت که گل آغاشیرزی والی کـندهار چـهار سـاعت بعد ازوقوع حادثه طـی یـک کنفرانس مطبوعاتی حمله انجام شـده را انـتحاری خوانـده و یک عرب را مسؤول آن دانست.

گـل آغـاشیرزی، همچـنان گفتـه بود که پنج عـرب بـرای انجـام حملات انتحاری داخل منطقه شده اند.

بـه گفتـه معـلم اکبر، با مسئوولین کندهار نیـز دراین مـورد صحبت نموده است که حملـه انـتحاری نبوده واگربوده باشد برای وی ثابت سازند.

بگفـته وی، مسـئوولین در مـورد حملـه انـتحاری از پیشـکش نمـودن اسناد عاجز مانده اند.

ایـن در حالیسـت کـه جـاوید لودیـن سـخنگوی ریاست دولت، روز ۱۷ جوزا طـی یـک کـنفرانس مطبوعاتی، روی این نکته تـاکید کـرد کـه خاکریـزوال در اثر یـک حملـه انـتحاری به قتل رسیده است، موصـوف به خبرنگاران گفت: ((تحقیقات نشـان داده اسـت، کـه ایـن حمله انتحاری بـوده و از جـانب یـک تبعه خارجی انجام شده است.))

ازطـرف دیگر طالبان نیز دست داشتن در آن واقعـه رارد نمـوده و عبداللـطیف حکیمـی سـخنگوی طالبان در آن وقت به آژانـس خـبری پـژواک گفته بود که آنها صـرف بخاطر به قتل رساندن خاکریزوال ،ایـن تعدادمـردم بـی گـناه رابقتل نمـی رسانند.

خود سوزی در هرات ...

اوافـزود کـه پسرش چهار فرزند داشـت و روزانـه مـزدورکاری میکرد.

بـه گفـته داکـتر غلام جیلانی علی اصـغرجوان ۱۸ سـاله از ناحیـه پنجم که اوهم با تیل خودراآتش زده اسـت ۲۵ درصـد سـوخته و فعـلا در شـفاخانه حوزوی هرات تحت تداوی قراردارد.

محمدغـوث پدر علی اصغر گفت کـه پسـرش گـاهی اوقـات دچارمشـکلات عصـبی میشـد وممکـن اسـت کـه بخاطرفشارعصبی دست بـه این کارزده باشد.

اماداکـتر غـلام جیلانی میگوید از آغـاز سـال جـاری تـا به حال ۱۸ مـرد دچـار سوختگی شده بودند که شش تن آنها جان باخته اند.

قـرار معلومات وی دو تن از جمع این هلاک شده گان، خود را قصداً آتـش زده بودنـد و چهـار حادثه دیگر اتفاقی بود.

این درحالیست که در جریان سال روان، صرف سه مرد قصداً خود را آتـش زده انـد. امـا شـمار زنان و دختـرانی کـه در هـرات خـود را قصـداً آتـش زده انـد، بمـراتب بیشتر از مردان بوده است.

قـرار اظهارات خـانم عفیفه مسؤو ل بخـش سـو ختـگی شـفا خـانه حـوزوی هـر ات طـی سال روان شـمار زنان و دختران هلاک شده از اثـر خـود سـوزی در ایـن شـفاخانه ، بـه هشـت تـن رسیده است.

خـانم عفیفه افزود طبق آمار ثبت شده، از شر و ع سا ل جاری تا به حـال ، یازده و ا قعه خو د سو زی قصدی زنان به وقوع پیوسته است که از آ ن جمله ، فقط سه تن زنده ما ند ه ا ند .

مکتبی در نادرشاه کوت ...

معـاون امنیت ملی این عمل را کار دشـمنان وطـن دانسـت و گفت که بـه اتهـام آن تاکنون کسی گرفتار نشده است .

این درحالیست که ، بتاریخ ۲ جوزا یـک مکتب در ارغنداب کندهار و بـتاریخ ۷ جـوزا دو مکـتب در ولسوالی گیلان ولایت غزنی توسط افـراد مسـلح به آتش کشیده شده بود.

با یونیفورم پولیس ملی ...

چهـار تـن افـراد مسلح که خود را منسـوبین حوزه ۱۱ امنیتی معرفی کـرده انـد، بـه بهانه تلاشی خانه به خاطررهایی کلمنتینا خانم اختطاف شـده موسسـه پاملرنه ظهرشانزده جوزا داخل منزل شد ند.

قـرار اد عای موصوف ، دزدان یک مقـدار پـول یورو و تمامی زیورات عروس و دختر عروسی شده اشرا کـه همـراه آنها زندگی مینمود ، با خود برده اند که ارزش آنها بالغ به بیش از یک میلیون افغانی میشود. کلمنتینا کانتو نی ، شام ۲۶ ثور از شـهر کـابل توسـط افـراد مسـلح اختطاف شـده و تا حال نیرو های امنیتی برای دریافت وی ده ها خانه مشکوک را تلاشی نموده اند .

به گفته عیدی محمد ، دو تن از این افراد لباس های جدید پولیس ملی و دو تن دیگرآنها که سر و صورت شان چرک و لباس های شخصی به تـن داشـتند ، هـر کـدام یـک میل کلاشـینکوف قـاتکی و یـک میـل تفـنگچه بـا خـود داشتندو تنها دو اتـاقی را تلاشـی نمودند که در آن پـول نقـد و زیـورات قـرار داشت .عیـدی محمد گفت : ((من از آنها پرسان نمودم که شما کدام استعلام بـه خاطـر تلاشـی داریـد ، با نشان دادن نشـان پولیس ملی در بازوی شان ،گفتند که این استعلام است .))

فریدون ۲۴ ساله پسر عیدی محمد کـه تـازه از کشـور آلمان برگشته است گفت : چند نفر از حوزه ۱۱ امنیتی همان روز آمده و دو اتاقی را کـه سرقت شده به خاطراخذنشان انگشت بسته نمودند ولی تا حال از آنها خبری نیست . این درحالیست کـه مسؤولین حوزه ۱۱ امنیتی ، از وقوع حادثه اظهار بی خبری نموده میگویـند کـه موضـوع را تعقیـب خواهند کرد.

فریدون ، کـاغذی که در آن نمبر پلیت موتر دزدان را یاداشت نموده بود نشان داد ه گفت : ((وقتی نمبر موتـر را بـرای پولیـس حـوزه ۱۱ ،نشـان دادم گفتـند کـه ایـن نمبر پلیت ها ساخته گی میباشد .))

مدیر عمومـی جنایی ولایت کابل ، دریـک صـحبت تلیفونی به آژانس خـبری پژواک گفته است :زمانیکه یک قضیه رخ میدهد حوزه باید تیم هـای محـل واقعـه قومـاندانی را درجریان بگذارند ولی آنها تا هنوز ایـن کـا ر را انجـام نـداده اند ،وی افـزود در مور د تحقیقا ت صورت خواهد گرفت .

دیو کاندید پلار...

ده زیاتـه کـړه : ((زه فکـرنه کـوم چې پلاربـه مې زمادکاندیدی له کبله وژل شوي وي .))

دزرمت ولسوال مېرزا محمد دپښې دتـائید پـر مهـال پـژواک خـبري آژانـس تـه وویـل: دوی دقضیې پلټـنه روانـه کـړې ده خـو نـه شـي ویـلی چې داکاربـه چـا کـړی وي.

پـه داسـې حـال کې چې دکندهار ولایت دامنیې قوماندان ملا پاسوال محمد ایوب پژواک خبرې آژانـس تـه وویـل چې ددې ولسوالی اړونـد ځړېـنو سیمه کې یې دا مړي موندلي دي.

ده زیاتـه کـړه چې کېدلـي شـي نومـوړي په خپل ماین الوتي وي ځکه چې سینه یې سخته ټپي وه او دواړه پښې یې پرې شوې وې.

دخوست دملي امنیت مرستیال نقیب الله عصمتي دپښې دتائید پـر مهـال ووېـل چې، دنومـوړي هویت نه دي معلوم اوداځرګنده نه ده چې، چا وژلـي او کـه خپل بم پرې الوتي دي؟

دامنیې قوماندان داهم وویل چې دوي دخوست په راډیو کې دمړي نښې اعلان کړې خو وارثین یې پیدا نـه شول او ښاروالی تـه یې دخښولو لپاره سپارلي دي.

دا پـه داسـې حـال کې ده چې دخوسـت دچـارواکو پـر وېـنا دغبرګولي په ۳ مـه یو تـن دخپل هغـه بم په وسیله وژل شوي و چې غوښـتل یې دبـاک ولسـوالی دسنارګي په سیمه کې یې په لویه لاره کې ښخ کړي.

دتخار ولایت خلک ...

وروسـته او یـا د کرنیـزو حاصلاتو د تولولـو پـرمهال پـه زور او جـبر له دوی غـنم، حبوبات او یا نغدي پیس اخلي، پداسې حـال کې چې دوی یې د ورکولو توان نه لري.

پیرم قل د تخار د رستاق او آمر بشیر د چاه آب په ولسوالیو کې د مخورو او پخوانیو قوماندانانو له دلې حسابېږي، په داسې حال کې چې ددې دوو ولسـوالیو خـلکو د خُینې خایي قوماندانانو پـه ضد لاریونونه کړي وو چې د یو شمېر خـلکو د مـرګ ژوبـلې لامـل وګرځېدل.

د رستاق ولسوالی د هزار سموج د کلي ۴۱ کلن هستوګن ، نورالله په داسې حال کې چې په خپل کښت کې د غنمو د حاصلاتو په تولولو بوخت و ، پژواک خبري آژانس سره لـه خبرو اترو سربېره دعـوه یې وکـړه: «قوماندانـان د شپاړسـو کلونو راپدېخوا هـر کـال پـه دې فصل کې له مورېنه د عُشر او زکات پـه نامـه د حاصلاتو لسمه برخه اخلي، کـه شتمن وو کـه نېستمن، پرمورېتولو زور دي.»

خو پیرم قل عشر او باج اخېستنه ناسمه وبلله او د پژواک آژانس ته یې ځرګنده کړه: «زه دېرې پیسې لرم او عشر او زکات ته اړتیا نلرم.»

پیرم قل زیاته کړه چې ده له وړاندې خپله وسله د تخار ۵۵مې فرقې ته سـپارلې ده خـو شـونې ده چې د خلکو سره وسله وي او داد دولت دنده ده چې وسله تولـه کړي.

د غبرګولي په ۹ مه نېټه په زرګونو خلکو د رستاق په ولسوالی کې لاریـون وکـړ او پیـرم قـل یې د نومـوړې ولسـوالی د ولسـوال پـه ملاتړ تورن کړي و چې د نښتو په ترڅ کې د خایي خلکو پر وېنا کابو پنځـلس کسـه ټپیـان شـول خـو امنیـتي چـارواکو تـش د پـنځو لاریـون کوونکـو د ټپـي کېـدنې پخلي وکړ.

هغـوي پیـرمقل، ولسـوال او د امنیې قوماندان د کورنې حکومت په جوړولو تورن او دې وضعې ته یې د پای د ټکي اېښودلو غوښتنه وکړه.

همدارازد چاه آب ولسوالی ۴۵ کلن اوسېدونکي عـوض محمـد دعوه وکړه: «کله چې مورِ دغنمو یا نـورو توکـو حاصـلات تولـو ، د حاصلاتو زیاته برخه مو په پور کې ځي او که قوماندانانو ته غله دانه ورنه کړو ، هغوی د هر کور پرسر دوه زره افغانی په زور اخلي.»

د ده په خبره که هغوی د غلې او یا هم پیسو په ورکولو کې سرزوري وکـړي، ددې قوماندانـانو د وسلوالو افرادو له خوا وهل او تکول کېږي.

خو د چاه آب آمر بشیر له پژواک آژانس سره د مرکې په ترڅ کې ووېل: «ما د خلکو سره زور زیاتي نه دی کړی او له خلکو مې عشر، زکات او باج نه دی اخیستي.»

آمر بشیر دعوه وکړه چې ده او تر قوماندې لاندې وګړو یې خپله وسله د مخه د ډې ډې ار چارواکو ته ورکړې ده.

چاه آبي بشیر داسلامي جمعیت یو دوه ځایي او پخوانیو قوماندانانو څخه دي چې د مرکزي دولت د پلاوي له لوري د چاه آب په ولسوالی کې د تر سره شویو اداري بدلونو سره یې مخالفت ښودلی دی.

په سلګونو نارینه وو او ښځینه وو د چاه آب په ولسوالی کې یو ځایي قوماندان، محمود خان ، انجونو ته د بدلمنې په ور اړولو تورن کړی او دغبرګولي په ۷ مه نېټه یې د ده په کور تېري وکړ او د ده د محاکمې غوښتنه یې وکړه چې ددې قوماندان له پلویانو سره د اخ او ډب په ترڅ کې ځلور تنه لاریون کوونکي ووژل شول، خو د تخار ولایت چارواکو یوازې د دریو تنو د ټپي کېدو پخلی کړی دی.

امنیتي چارواکو محمود خان د لاریون په هماغه ورځ ونیولو ، خو آمر بشیر د قوماندان محمود خان ملاتړ وکړ او خبرداري یې ورکړ که چېرې د محمود خان جرم جوت نشي، هېڅ څوک هغه محاکمه کولی نشي.

په دې حال کې، د تخار ولایت د والي، عبدالکبیر مرزبان سکرتر، محمد یونس ابرار پژواک آژانس ته ځرګنده کړه چې تر دې دمه دوی ته د عُشر او یا باجګیری په اړوند د خـلکو سـرټکونه نـه ده رارسېدلي، خو که سرټکونه ورته ورسېږي او جوتـه شي، لاملین به یې محاکمه شي.

ده زیاته کړه: «که عُشر او زکات او باج اخېستنه د چا لخوا تر سره شوې وي، د قانون خلاف کار دی او موږ قانون پر هر چا چې وي پلي کوو.»

افغاني انجوني په ...

دخایي اوسیدونکو پر وینا چې په هلمند ولایت کې دخلکو تول کارو بار په اپینو دي، څکه چې دا یې یوازینې عاید دی، ځینې خلک دلونو ورکولو پر مهال دولور پر ځای اپین اخلي.

دسیمې یو تـن اوسیدونکي چې دنوم له ځرګندولو ځخه یې ډډه کوله پژواک خبري آژانس تـه ویـلي چې داپینو قاچاقبران دکوکنارو دکښت پر مهال کروند ګرو ته له وړاندې نه داپینو پیسې ورکوي.

دمرجې ولسوالی یوه بله ۷۵ کلنه اوسیدونکي هوسی وایي: «زما زوی یوه کروند ګرته داپینو لپاره پیسـې ورکـړې وې، خـو چې کروندګر ورته اپین ورنه کړ ، نو لور یې زما زوي په نکاح کړه.»

ددې پـر وېـنا چې زوي یې یـو واده لرلو ، او دا یې دویم واده دي چې څو ورځې وړاندې یې کړی دی.

دمرجې ولسوالی دلویې څلور لارې یـوه اوسیدونکي بې بې شیرنی وایي چې خاوند یې هغـه مهال چې بـل واده یې کولـو نـو یوولـس مـنه اپین یې په بدل کې دولور په توګه خپل خسر ته ورکړي و.

دهلمند د جامع جومات خطیب او دیني عـالم شیخ الحدیث مولـوي صـالح محمـد وایـي چې حـلال او حرام دواړه ښکاره دي، دا یـو حرام کار دي.

ده زیاته کړه: «په اصل کې په خور باندې د هر څه ولور اخیستل حرام دي که هغه اپین وي او یا پیسې...» دده پـر وېـنا پـه حرامو معاملې نه کېږي.

خـو دهلمـند د کرهنې او مـالداری رئیـس میـا غـلام حبیب دا دخلکو شخصـي کارونـه بولي او وایي چې دولـت دومـره وسـایل تـه لـري چې کروند ګرو سره مرستې وکړي.

دهلمـند ولایـت دښخـو چـارو دریاست اداري مدیر غلام حسن هم دا مني چې په یـو شمیر ولسـوالیو کې پورتـه یـادې شـوې پېښې رامنځته کیږي.

دیـوې پېښې دبیلګې پـه تـوګه د وړاندې کولـو پر مهال یې وویل چې دیوې ښځې ورور په ایران کې بندي و ، خپله خور یې داپینو پـه بدل کې ورکړه او هغـه پیسـې یې دورور پـه خلاصولو کې مصرف کړې. ده پر وینا چې دوي هڅـه کـوي د دغـو پېښو کچه لږ کړي.

دا پـه داسـې حـال کې چې دکورنیـو چـارو وزارت دمخـدره مـوادو پروړاندې دمبارزې ځانګړې قطعې دغبرګولي د لومړي ځخه تر درېمې نیټې او بیا یـوه اونۍ وروسـته پـه هلمند ولایـت کې عمـلیات ترسـره کړل چې د بارامچـه پـه نـوم داپینو دیـو ه مشـهور اولـوي بـازارد لـه منځه وړلو برسیره په سلګونو کیلو ګرامه مخدره مواد او ورسره په تړاو یې څو کسان نیولي وو.

ERADA Daily

اراده

زیرنظـر هیـات تحـریـر انتشـار مییابـد

موسـس وصاحب امتیاز: حـا جی سیـد داؤد

مـدیـر مسـوول : ظهـور افغـان

معـاون : سهـراب دیدار

آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان سرک مسجد حاجی میر احمد خانه نمبر۹۵)

تلیفون موبایل: ۰۷۰۲۲۴۷۸۷

تیلفون موبایل معاون: ۰۷۰۲۲۲۷۲۶

اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد

روزنامه آزاد وملی نشریه مرکزنشراتی افغان

اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نویسنده گان به خودشان مربوط است

کمپوز و دیزاین: انجینیر محمد جمیل "امیـری" و سبحان الله "داودزی"

چاپ: مطبعه مرکزنشراتی افغان

قیمت یک شماره ۳ افغانی

Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center

Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Zuhoor Afghan(Mobil phone :070224787)

Deputy: Suhrab Didar (Mobil Phone: 070222726)

eradadaily@hotmail.com